قرآني بيان

صلى الله عليه وآله وسلم

الله پاک د مُحَمَّد

رضا غواړي

(پاره:30،سورۃ اَلَم نَشْرَح:01)

د مدني مرکزونو (فيضان مدينه) او د شعبه امام مساجد (دعوتِ اسلامی)د انتظام لاندې

د جوماتونو د پاره په 28 اګست، کال 2026ء (بمطابق: 14 ربيع الاول، کال 1448ھ)

د جُمعةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)د انتظام لاندې د جوماتونو د پاره په 28 اګست، کال 2026ء (بمطابق: 14 ربیع الاول، کال 1448ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بیان

پۀ نوم

خدا چاہتا ہے رضائے محمد

(الله پاک د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا غواړي)

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا د اُمت پۀ بخښنه کښې ده
- د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خواهش زر پوره کیږي
- د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عقل مبارک
- د دُنیا د خزانو پښکش

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

د دُرُودِ پاک فضيلت

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم:

اَكْثِرُوا الصَّلَاةَ عَلَيَّ، فَاِنَّ الصَّلَاةَ عَلَيَّ زَكَاةٌ لَكُمْ

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په ما باندې ډېر ډېر دُرُودِ پاک لولئ، بے شکه ستاسو په ما باندې دُرُودِ پاک لوستل ستاسو د پاره د پاک والي ذريعه ده- (1)

دُعائیں ہوتی ہیں مَقْبول اس وسیلے سے | خدا کی خاص عنایت درودِ پاک سے ہے
غمِ جہاں سے کبھی سابقہ نہیں پڑتا | مجھے تو ہر گھڑی راحت درودِ پاک سے ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي):

---

[1] ... مسند ابو يعلى، مسند ابو هريرة، جلد:5، صفحه:62، حديث:6407۔

وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى (پاره:30، سورۃ الضحیٰ:5)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صلّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او بے شکه نزدې ده چې ستا رب به تا ته دومره درکړي چې تۀ به راضي شې-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د آیت مبارک مختصر وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! تېر کال پۀ ربیع الاول شریف کښې مونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ شان مبارک باندې د یو ښکلي سُورت مبارک سُورۂ وَالضّحیٰ وضاحت او د دې آیتونو نه د مېلاؤیدونکي سبق د زده کولو کوشش کړے وو، د دې سُورت مبارک ټول 11 آیتونه دي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! 4 آیتونه مونږ تېر کال اورېدلي وو، پۀ دې کال به مونږ یو څو نور آیتونه او د هغې د وضاحت او د تفصیل اورېدو سعادت حاصلوو-

دلته غور اوکړئ چې قرآنِ کریم څومره جامِع کتاب دے، د دې پۀ یو یو آیت کښې د علومو او مَعَارِفو دریابونه بهېږي، زمونږ پۀ شان کم عِلمه خلق که چرې د علمائے کرامو لیکلے شوي مدني ګلونه هم بیانوو نو د یو یو آیت څومره تفصیل کیږي، لوئي ماهران علمائے کرام چې کله د دې تفسیر فرمائي نو څومره تفصیل به وي- بیا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ شان او عظمت باندې هم غور اوکړئ! رَبِّ کائنات پۀ دې مبارک سُورت کښې څومره پۀ تفصیل سره د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صفتونه او کمالونه بيان کړي دي- الله دې کړي چې مونږه همېشه د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ شان او عظمت باندې پوخ يقين وساتو، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ عظمت باندې مو سينه روښانه وي- اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

جان ہے عشقِ مصطفٰے، روز فُزوں کرے خُدا
جس کو ہو دَرد کا مزہ نازِ دوا اُٹھائے کیوں؟(1)

وضاحت: يعنې عشقِ رسول زمونږه ځان دے، الله دې کړي چې دا عشق ورځ پۀ ورځ زيات شي، پۀ دې کښې د يوې ذرې همره کمے هم رانشي، آؤ! عشق يو درد وي خو دا داسې درد دے، پۀ کوم کښې چې خوند دے، مزه ده، کله چې پۀ دې درد کښې مونږ له خوند راځي نو د دې عِلاج ولې اوکړو؟

راځئ چې آيت مبارک واورو:

د آيت مبارک مختصر وضاحت

الله پاک فرمائي:

﴿ وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى (پاره:30، سورۂ الضحیٰ:5)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او بے شکه نزدې ده چې ستا رب به تا ته دومره درکړي چې تۀ به راضي شې-

سُبْحٰنَ الله! خومره ځانګړے شان دے--!! ◈ الله رَبُّ الْعٰلَمِين دے ◈ هغه اَحکم

---

[1]... حدائقِ بخشش، صفحه:94۔

الحاکِمِین دے ◈ د هغۀ شان دے چې څۀ غواړي، صرف کُن فرمائي نو کیږي ◈ ټول مخلوق د هغۀ رضا غواړي ◈ خلقو د هٰغه رَبِّ رحمان د راضي کولو د پاره زندګي ولګولې ◈ پۀ ځنګلونو کښې یې عبادتونه اوکړل ◈ څۀ څۀ مجاهدې یې وه نۀ کړې، اوس یې هم کوي خو قربان شم! ټول خلق د هغۀ رضا غواړي او هٰغه رَبِّ رحمان فرمائي: اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! الله پاک به تاسو ته دومره در عطا کړي چې تاسو به راضي شئ- **پۀ روایت کښې دي:** الله پاک فرمائي: كُلُّهُمْ يَطْلُبُوْنَ رِضَائِيْ وَاَنَا اَطْلُبُ رِضَاكَ یعنې اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ټول مخلوق زما رضا غواړي او زۀ ستاسو رضا غواړم- [1]

خُدا کی رضا چاہتے ہیں دو عالَم | خُدا چاہتا ہے رضائے مُحَمَّد[2]

دوه طرفه محبت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دلته دا خبره هم قابل غور ده چې صِرف داسې نۀ ده چې هُم الله پاک د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت فرمائي بلکې خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم د خپل رَبّ د رضا طلب ګار دے- د مِعراج واقعه خپل ذِهن ته راولئ! ښکلې شپه ده، رَبِّ کریم د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره اسمانونه ښائسته کړي دي، پۀ زمکه او اسمان کښې انتظامونه کیږي، انبیائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام د هر کلي د پاره پۀ مسجدِ اقصیٰ کښې راجمع کیږي، پۀ اسمانونو کښې خوشحالی کیږي، دلته خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

---

[1]... فتاوٰی رضویه، جلد:30، صفحه:197 و198۔

[2]... حدائقِ بخشش، صفحه:65۔

وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عاجزۍ او اِنکسارۍ نمونه جوړېږي او د الله پاک د محبت پۀ جذبه کښې ډېر پۀ ادب سره د الله کريم دربار ته حاضريږي، کله چې خاص هٰغه نزدې مقام ته ورسېدو نو الله پاک وفرمائيل: اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! اَنَا وَاَنْتَ يو زۀ يم، بل تاسو يې، وَمَا سِوَاكَ خَلَقْتُ لِاَجْلِكَ ستاسو نه علاوه پۀ کائنات کښې چې څۀ دي، هٰغه هر څۀ ما ستاسو د پاره پيدا کړي دي- دا د الله پاک د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره بے مثاله محبت دے- بيا زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څۀ عرض کړل؟ واورئ! اَللّٰهُمَّ اَنْتَ وَمَا اَنَا اے الله پاکه! هُم تۀ يې زۀ نۀ يم، وَمَا سِوٰى ذٰلِكَ تَرَكْتُ لِاَجْلِكَ او د دې نه علاوه چې څۀ هم دي ما ستا د رضا د پاره پرېښودل- (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے--!! دا خبره رښتيا ده چې ◈ الله پاک خالِق دے او خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخلوق دے ◈ الله پاک مَعبُود دے او خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عابِد دے ◈ الله پاک مَسجُود دے او خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ساجِد دے خو د محبتونو ناشنا انداز ته وګورئ چې رَبّ فرمائي: محبوبه! هر څۀ ستا د پاره دي- خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عرض کوي: مالِکه هر څۀ ستا پۀ رضا باندې قُربان دي-

مصطفٰے ہیں ساری خلقت کے لیے | ساری خلقت ہے برائے مصطفٰے
ڈھونڈتے ہیں سب رضا اللہ کی | چاہتا ہے حق رضائے مصطفٰے (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... مکتوباتِ اِمامِ ربانی، دفتردوم، حصہ اوّل، مکتوب:7، جلد:2، صفحہ:855۔

[2]... قبالۂ بخشش، صفحہ:80۔

د وېښتۀ مبارک بے ادبي هم کُفر دے

اِمام فخر الدِّين رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د طائِف موقع ده، خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته تکليف ورکولے شي ، د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ پاک وجود مبارک باندې (مَعَاذَ الله!) کانې ورولے کيږي، د پاک وجود مبارک نه وينه بهيږي خو کله چې فرښتے خِدمت ته حاضرې شوې، عرض يې اوکړو: حُکم اوکړئ چې د طائِف والا برباد کړو خو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبوبِ ذِيشان دے، د دواړو جهانو رحمت دے، فرمائي: اَللّٰهُمَّ اهْدِ قَوْمِيْ اِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ اے الله پاکه! زما قوم ته هدايت عطا کړې، دوئي نۀ پوهيږي-

يو طرف ته خو دا رحمت دے، معافي ورکړے کيږي- بل طرف ته وګورئ چې د غزوۀ اَحزاب موقع ده، د مکے کافران راجمع شوي دي او پۀ مدينه منوره باندې د حملې کولو د پاره راغلي دي، پۀ دې حالت کښې د مازيګر د نمونځ ادا کولو د پاره ناوخته شو، پۀ دې باندې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې پۀ جلال کښې راغلو، داسې پۀ جلال کښې راغلو چې وه يې فرمائيل: اَللّٰهُمَّ امْلَا بُطُوْنَهُمْ نَارًا اے الله پاکه! د دوئي خِپتې د دوزخ د وور نه ډکې کړې-

اِمام فخر الدِّين رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: الله پاک وفرمائيل: اے خورِه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! قوم چې تاسو ته تکليف درکړو نو تاسو معاف کړو او کله چې د دوئي پۀ وجه زما د حق پۀ ادا کولو کښې ناوخته شو نو تاسو جلال وفرمائيلو، بس اے خورِه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دلته هم دا قانون دے چې که څوک مسلمان (زما د حق پۀ ادا کولو کښې بے خيالي اوکړي، مثلاً) نمونځ نۀ کوي، نمونځ فرض ګڼي خو ټول کال يې نۀ ادا کوي نو هغه به

کافِر نۀ ګرځولے کیږي خو که چا صرف ستاسو د وېښتۀ مبارک بے ادبي هم اوکړه نو هغه زمونږ د دربار نه رټلے شوے دے، پۀ هغۀ باندې به د کُفر حُکم لګولے شي۔ [1]

سُبْحٰنَ اللہ! دا دے محبت--!! محبوبِ ذِیشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک حق ورومبے ږدي او الله پاک د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حق ورومبے ږدي۔

د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا د اُمت پۀ بخښنه کښې ده

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله پاک فرمائي:

وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى (پاره:30، سورۀ الضحیٰ:5)	[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او بے شکه نزدې ده چې ستا رب به تا ته دومره درکړي چې تۀ به راضي شې۔

د دې آیت مبارک یو بنیادي موضوع د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت دے۔ د مسلمانانو څلورم خلیفه حضرت علي المُرتضیٰ، شېرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: کله چې دا آیت مبارک نازل شو نو خوږ نبي، ښه نبي، ربښتوني نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اِذَنْ لَا اَرْضٰى وَوَاحِدٌ مِنْ اُمَّتِیْ فِی النَّار یعني (چې دا وعده ده چې رَبِّ کریم به ما راضي کوي) نو بیا چې د کوم وخته پورې زما یو اُمتي هم پۀ دوزخ کښې وي، زۀ به هډو راضي کېږم نۀ۔ [2]

---

[1]... تفسیر کبیر، پاره:30، سورۀ ضحیٰ، زیرِ آیت:5، جلد:11، صفحه:195۔

[2]... تفسیر ثعالبی، پاره:30، سورۀ ضحیٰ، زیرِ آیت:5، جلد:5، صفحه:601۔ دار احیاالتراث

دَمِ حشر عاصِی مزے لے رہے ہیں | شفاعت کسی کی ہے رحمت کسی کی
ہمیں ہیں کسی کی شفاعت کی خاطِر | ہماری ہی خاطِر شفاعت کسی کی
ہم ایسے گنہگار ہیں زُہد والو! | ہماری مدد پر ہے رحمت کسی کی(1)

وضاحت: د قیامت په سخته ورځ کښې هم ګنهګاران په مزو کښې دي چې د محشر په مېدان کښې د الله پاک رحمت هم او د شفاعت د پاره خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم شته ، مونږ هم ګنهګاران یو د چا په خاطِر چې د چا شفاعت دے او زمونږ د پاره به تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رَبِّ کریم په دربار کښې شفاعت کوئ، اے زُهد او تقویٰ اِختیارووونکو! مونږه داسې ګنهګاران یو د کومو د مدد د پاره چې الله پاک خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رحمت راولېږلو۔

اے محبوبہ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آیا تاسو راضي یـئ---؟

رسولِ ذِیشان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: زۀ به د قیامت په ورځ شفاعت کووم، کووم، تر دې پورې چې زما رَبّ به ما ته وفرمائي: اَرَضِيْتَ يَا مُحَمَّدُ! یعني اے خوږه محبوبه! آیا تاسو راضي شوئ؟ زۀ به عرض کووم؟ نَعَمْ يَا رَبِّ رَضِيْتُ آؤ! اے زما پاکه رَبه! زۀ راضي یم۔ (2)

تمہارا نام مصیبت میں جب لیا ہو گا | ہمارا بگڑا ہوا کام بن گیا ہو گا

---

[1]... ذوقِ نعت، صفحہ:235 و 236 ملتقطًا۔

[2]... مسند بزار، مسند علی بن ابی طالب رَضِیَ اللهُ عنه، جلد:2، صفحہ:239، 240، حدیث:638۔

گنہگار پہ جب لُطف آپ کا ہو گا | کیا بغیر کیا، بے کیا کیا ہو گا
دِکھائی جائے گی محشر میں شانِ محبوبی | کہ آپ ہی کی خوشی آپ کا کہا ہو گا
خُدائے پاک کی چاہیں گے اگلے پچھلے خوشی | خدائے پاک خوشی اُن کی چاہتا ہو گا[1]

شفاعت حق دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې نه معلومه شوه چې **د شفاعت عقیده حق ده، رښتونې ده** او په مونږ باندې لازم دي چې د شفاعت عقیده پخه وساتو- **په حدیثِ پاک کښې دي:** شفاعت کوونکي آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **شَفَاعَتِیْ یَوْمَ الْقِیَامَةِ حَقٌّ** د قیامت په ورځ زما شفاعت کول حق دے **فَمَنْ لَمْ یُؤْمِنْ بِهَا لَمْ یَكُنْ مِنْ اَهْلِهَا** پس څوک چې په دې باندې اِیمان نۀ راوړي، هغه به د شفاعت حقدار نۀ وي- [2]

آج لے اُن کی پناہ، آج مدد مانگ اُن سے
کل نہ مانیں گے قیامت میں اگر مان گیا[3]

◈ نن دا یقین لرل دي چې د شفاعتِ کُبریٰ منصب د محبوبِ ذِیشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے

◈ نن دا یقین لرل دي چې د قیامت په ورځ به د محبوبِ ذِیشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د محبوبیت شان ښودلے کیږي، هغوئي به شفاعت کوي او ګنهګاران به جَنَّت ته بوځي-

---

[1] ... ذوق، نعت، صفحه:51۔

[2] ... جامع صغیر، صفحه:301، حدیث:4896۔

[3] ... حدائقِ بخشش، صفحه:64۔

تمنّا ہے فرمایئے روزِ محشر | یہ تیری رہائی کی چِٹّھی ملی ہے
شَفاعت کرے حشر میں جو رضاؔ کی | سوا تیرے کس کو یہ قُدرت ملی ہے[1]

وضاحت: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! خواهش دا دے چې کله د قیامت په ورځ حاضري وي نو تاسو وفرمایئ: اے رضاؔ! ستا د پاره د دوزخ نه د ازادی دا چیټی مبلاؤ شوې ده- اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د رضا شفاعت کول هم ستاسو کار دے، ستاسو نه علاوه چا له دا طاقت نۀ دے ورکړے شوے-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خدا چاہتا ہے رضائے محمد
(الله پاک د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا غواړي)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله پاک فرمائي:

وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى
(پاره:30، سورۀ الضحیٰ:5)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او بے شکه نزدې ده چې ستا رب به تا ته دومره درکړي چې تۀ به راضي شې-

مفسرینِ کرام فرمائي: په اصل کښې دا آیت مبارک د یو سوال جواب دے- [2] هغه سوال څۀ دے؟ الله پاک د دې نه په مخکښې آیت کښې وفرمائیل:

---

[1]... حدائقِ بخشش، صفحه:188 ملتقطاً۔

[2]... تفسیر کبیر، پارہ:30، سورۂ ضحیٰ، زیرِ آیت:5، جلد:11، صفحہ:194۔

وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى (پاره:30، سورۂ الضحیٰ:4)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او بے شکه ستا د پاره هر راروان ساعت د تېر نه بهتر دے-

يعني اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ◈ ستاسو د ژوند مبارک هر ساعت ◈ هره کېنټه ◈ هره ورځ ◈ هره مياشت ◈ هر کال بے مثله او بے مثاله دے، د بهترين نه بهترين دے خو ستاسو هر راتلونکے ساعت، هره راتلونکې ورځ، هره راتلونکې هفته، راتلونکې مياشت، کال به د مخکښينو بهترينو ساعتونو نه هم ډېر بهترين وي-

اوس وګورئ چې يو دے وړومبے ساعت او يو دے د دې نه پس ساعت، رَبّ فرمائي: خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! وړومبے ساعت هم بهترين دے خو وروستو راتلونکے ساعت به د بهترين نه هم زيات بهترين وي- اوس پوښتنه دا ده چې په دې دواړو ساعتونو کښې فرق څومره دے؟ دوېم ساعت کوم چې د وړومبي نه ډېر بهترين دے، په بهترې کښې د دې زياتوالي مقدار څومره دے؟ د دې په جواب کښې رَبِّ کريم فرمائي:

وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى (پاره:30، سورۂ الضحیٰ:5)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او بے شکه نزدې ده چې ستا رب به تا ته دومره درکړي چې ته به راضي شې-

يعني خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو د وړومبي او دوېم ساعت ترمينځه چې کوم د بهترې زياتوالے دے، هغه دومره دے څومره چې تاسو غواړئ- ستاسو هر ساعت د مقامونو د اوچت والي ارځ ته سفر جاري دے او هر ساعت به تاسو دومره اوچتوالے

اِختیاروئ، څومره چې ستاسو رضا ده-

گدا خوش ہوں خَیْرٌ لَّك کی صدا ہے	کہ دن دُونی ہے بڑھتی دولت کسی کی
فَتَرْضٰی نے ڈالی ہیں بانہیں گلے میں	کہ ہو جائے راضی طبیعت کسی کی(1)

وضاحت: سوالګري دې خوشحاله شي چې د محبوبِ ذِیشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره هر ساعت په خپرونو کښې د زیاتوالي وعده ده، مطلب دا دے چې د هغوئ دولت ورځ په ورځ زیاتېږي- بیا د دې سره سره د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا هم وعده ده، د دې څۀ مقصد دے--؟ دا چې د محبوبِ ذِیشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طبعیت راضي شي-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې نه معلومه شوه چې محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ژوند مبارک یو یو ساعت د هغوئ د رضا مطابق تېرېږي، څنګه چې هغوئ غواړي، هم هُغسې د هغوئ رَبّ هغوئ ته عطا کوي- یو څو مثالونه وګورئ! ◈ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نۀ غوښتل چې طائِف والا تباه کړے شي، هغوئ تباه نۀ کړے شو ◈ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وغوښتل چې په مکې والو باندې قحط راشي، قحط راغلو ◈ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوښتل چې حضرت عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اِسلام قبول کړي، حالانکې هغوئ توره راویستې وه او د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **مَعَاذَاللہ!** د شهید کولو د پاره راغلے وو، رَبِّ رحمان د هغۀ زړۀ واړولو، راغلے وو د تکلیف رسولو د پاره او غلام جوړ شو ◈ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوښتل چې په بدر کښې فتح نصیب شي، رَبِّ کریم

---

[1]... ذوقِ نعت، صفحہ:237۔

فرښتے نازلې کړې ◈ خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوښتل چې د لرې لرې پورې قبيلو ته د اِسلام پيغام ورسېږي، الله پاک ورته د صلح حدېبيه موقع ورعطا کړله، د دې پۀ ذريعه د اِسلام پيغام د لرې لرې پورې ورسېدو ◈ خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوښتل چې مکه فتح شي نو مکه فتح شوه ◈ د خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره فِکر وو چې اِسلام پۀ ټولو دينونو باندې غالِب شي، الله پاک وفرمائيل:

لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ وَ لَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ (پارہ:10، سورۂ توبہ:33)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: چې هغه پۀ ټولو دِينونو باندې غالِب کړي اګر که مشرکان يې نۀ خوښوي-

پۀ اُمت باندې کرم

د حديثِ پاک پۀ کتابونو کښې داسې ډېر حديثونه مېلاؤ ېږي، مثلاً ◈ **نبي کريم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي:** که چرې زما پۀ اُمت باندې ګران نۀ وے نو د هر نمونځ د پاره به مې د مِسواک حُکم کړے وے ◈ فرمائي: که چرې زما پۀ اُمت باندې درانۀ نۀ وے نو د ماسخوتن نمونځ به مې د شپې د درېمې حصې پورې د وروستو کولو حُکم کړے وے- [1] ◈ د تراوِيح پۀ باره کښې فرمائي: هسې نۀ پۀ تاسو باندې دا فرض نۀ شي، ځکه مې پۀ جومات کښې د جَمعې سره تراوِيح ادا کول بند کړل- [2]

---

[1]... ترمذی، ابواب الطهارة، باب ما جاء فی السواک، صفحه:16، حدیث:23۔

[2]... بخاری، کتاب الجمعة، باب من قال فی الخطبة بعد الثناء اما بعد، صفحه:281، حدیث:924 خلاصۃً۔

◈ او داسې قِسمه ډېر حديثونه دي، سوال دا دے چې که خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حُکم اونکړي، نو که چرې الله پاک آيت نازل کړي چې د هر اودس سره مِسواک فرض دے نو آيا فرض کېدلو به نۀ؟ د خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمت سره فِکر خو دے، الله پاک دا حُکمونه ولې نازل نۀ کړل--؟ ځکه چې د خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښه ده چې د اُمت د پاره ګرانه نۀ شي نو الله پاک هم د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښه پوره کړله، د قرآنِ کريم شپږ نيم زرو ته نزدې آيتونه دي خو پۀ يو آيت کښې هم مِسواک فرض کړے شوے نۀ دے، پۀ قرآنِ کريم کښې بيا بيا د نـمونځ حُکم اوکړے شو خو تراوِيح فرض نۀ کړے شوې، اخر ولې؟ ځکه چې د خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا پۀ دې کښې ده ◈ د معراج پۀ شپه وکورئ چې الله پاک 50 نـمونځونه فرض کړل، خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوښتل چې کم شي، ځکه الله پاک کم کړل او 5 يې کړل-

دا دے د خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا اثر--!! هغوئ چې پۀ څۀ باندې راضي وي، الله پاک هم پۀ هغې باندې راضي دے-

رضائے حق کے طالب دو جہاں لیکن ترا مولیٰ
تری چاہے رضا اے رہنے والے سبز گنبد کے(1)

د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خواهش به زر پوره کېدلو

يو ځل د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ حق کښې څۀ آيتونه

---

[1]... قبالۀ بخشش، صفحه:322۔

نازل شول نو د مسلمانانو خوږې مور جانې، حضرت عائِشه، صِدّيقه، طيبه طاهِره رَضِیَ اللهُ عَنْها عرض اوکړو: يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! وَاللهِ، مَا اَرٰى رَبَّكَ اِلَّا يُسَارِعُ لَكَ فِيْ هَوَاكَ يعني په خُدائے مې دې قَسَم وي زۀ وينم چې ستاسو رَبّ ستاسو په خواهش پوره کولو کښې تادي فرمائي- (1)

وئيل دا غواړي چې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو مقام د رَبِّ رحمان په دربار کښې څومره اوچت دے چې دلته تاسو خواهش فرمايئ، هلته رَبِّ کريم ستاسو خواهش پوره کوي-

قبله بدله شوه

د قبلې د بدلېدو واقعه ډېره مشهوره ده، الله پاک په قرآنِ کريم کښې د دې ذِکر اوکړو، کله چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مدينے منورې ته تشريف راوړلو نو تقريباً د 17 مياشتو پورې يې د بيتُ المُقدس طرف ته نمونځ ادا کړو، په دې کښې يو حکمت وو، هٰغه حکمت پوره شو- بيا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوښتل چې هم کعبه شريفه زمونږه قبله جوړه کړے شي-

د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان ته وګورئ چې د ماسپښين نمونځ ادا کوي، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جَمعه ورکوي، صحابۀ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ورپسې شا ته ولاړ دي، رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اسمان طرف ته صرف نظر اوکړو، هم هٰغه وخت بالکل د نمونځ په حالت کښې حُکم وشو:

---

[1] ... مسلم، کتاب الرضاح، باب جواز ہبتها نوبتها لضرتها، صفحه:553، حدیث:1464۔

قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ ۚ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰىهَا ۪ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ

(پارہ:2، سورۂ بقرہ:144)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: مونږ ستا بیا بیا د اسمان پۀ لوري مخ کول وِینو، نو ضرور به مونږ تا د هٰغه قبلې پۀ طرف وګرځوو پۀ کومه کښې چې ستا خوشحالي ده نو اوس خپل مخ مسجدِ حرام طرف ته وګرځوه۔

بیا خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بالکل هم د نـمونځ پۀ حالت کښې د بیتُ المُقدس نه د کعبې شریفې طرف ته مخ مبارک وګرځولو۔

پۀ مدینه منوره کښې د قبلې اړخ پۀ جدا انداز سره دے، د پوهه کولو د پاره عرض کووم نو داسې وګڼئ چې مخکښې نُوراني مخ د مشرق اړخ ته وو نو بیا بالکل د دې پۀ شې اړخ پۀ راتاؤېدو مخ مبارک د مغرب طرف ته کړے شو۔ یعني پوره پۀ 180 ډګرۍ باندې یـې مخ مبارک وګرځولو او دا د ګرځولو معامله کله وشوه، بالکل د نـمونځ پۀ حالت کښې، د ماسپښین نـمونځ دے، 2 رکعته ادا کړے شوي دي او 2 پاتې دي۔ [1]

غور اوکړئ چې پۀ 2 رکعتو ادا کولو باندې څومره وخت لګي---؟ داسې خو هم ممکن وه چې خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نـمونځ پۀ حالت کښې خواهش وفرمائیلو نو د نـمونځ د پوره کېدو نه پس حُکم ورکړے شوے وے چې اے خوږه حبیبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! راتلونکے نـمونځ د کعبې اړخ ته ادا کړئ! خو قربان شم چې د الله پاک د خوږ محبوب

[1] ... سبل الهدیٰ، جماع ابواب بعض حوادث... الخ، الباب السادس فی قصه تحویل القبله، جلد:3، صفحه:370۔

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوشحالي خوښه ده او رَبِّ کائنات د هغوئ پۀ خواهش پوره کولو کښې تادي فرمائي، ځکه د 2 رکعتو د پوره کولو تاخير هم منظور نۀ کړے شو، هم بالکل د نمونځ پۀ حالت کښې سمدستي د هغوئ خوښه پوره کړے شوه-

جن کے سجدے کو محرابِ کعبہ جھکی | اُن بھنوؤں کی لطافت پر لاکھوں سلام(1)

د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عقل مبارک

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا خبره هم پۀ ذِهن کښې د ساتلو ده چې د هر چا چې کوم ارمان، خواهش او رضا وي، هغه د هغۀ د عقل مطابق وي، تاسو د وړوکي ماشوم نه پوښتنه اوکړئ چې څۀ غواړي؟ هغه به د خوراک څښاک څيزونه غواړي، د لوبو څيزونه به غواړي او دغه شان نور څيزونه به غواړي- د يو عقل لرونکي بالغه نه پوښتنه اوکړئ چې څۀ غواړي؟ هغه به پۀ خپل لحاظ سره خواهش کوي، د چا عقل چې څومره پوخ وي، د چا شعور چې څومره اوچت وي ، هغه هم د هغې د مطابق ارمان لري، زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٰغه هستي ده چې **حضرت وهب بن منبه** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **فرمائي:** ما پۀ مخکښينو اسماني کتابونو کښې پۀ 71 کتابونو کښې لوستلي دي چې ټولې دُنيا ته چې څومره عقل راکوز کړے شوے دے، دا ټول که چرې يوه صحرا وکښلے شي نو پۀ دې کښې د يوې ذرې همره عقل ټولې دُنيا له ورکړے شوے دے، باقي ټول عقل محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عطا کړے شوے دے- (2)

---

[1]... حدائقِ بخشش، صفحه: 300-

[2]... سبل الهدیٰ، جماع ابواب اسمائه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، الباب الثالث، جلد:3، صفحه:370-

يعني رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دومره زيات عقل مند دے- ځکه چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم خواهش ات دي، ارمانونه دي، هغه هم د دې مطابق دي-

د دُنيا د خزانو پېشکش

حضرت خَيثَمَه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ **فرمائي:** الله پاک مالِک او مختار نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا پېشکش (***Offer***) اوکړو چې اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! که چرې تاسو غواړئ نو مونږ به تاسو ته د دُنيا هٰغه خزاني درعطا کړو کومې چې نۀ ستاسو نه مخکښې چا ته مېلاؤ شوې، نۀ به ستاسو نه پس چا ته مېلاؤ پېږي، پۀ دې باندې نور دا چې د دې دُنيا د خزانو پۀ وجه به ستاسو د اخرت د اِنعامونو نه هم هيڅ نۀ کمولے کيږي- عابِد او زاهِد نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عرض اوکړو: اے الله پاکه! دا هر څۀ زما د پاره هم پۀ اخرت کښې جمع کړئ! [1]

بعطائے رَبِّ حاکِم تُو ہے رِزق کا بھی قاسِم | ہے ترا سب آب و دانہ مَدَنی مدینے والے!
مَیں غریب بےسہارا، کہاں اور ہے گزارا | مجھے آپ ہی نبھانا مَدَنی مدینے والے![2]

د سرو او سپينو زرو غرونه به راسره کړځېدل

د مسلمانانو خوږه مور جانه، حضرت عائِشه صِدّيقه طيبه طاهِره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: يوه ورځ يوه انصاري زنانه زما خوا له راغله، هغې چې کله د سرورِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

---

[1]... مصنف ابن ابی شیبه، کتاب الفضائل، باب اعطی الله تعالیٰ مُحَمَّد، جلد:7، صفحه:444، حدیث:162۔

[2]... وسائل بخشش، صفحه:426۔

وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ساده شان بستره مبارکه ولیدله نو د هغې زړۀ راډک شو، هغه سمدستي لاړه او د مالوچو نه ډکه نرمه او پسته بستره یې راولېږله، ما د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره هٰغه بستره وغوړوله- کله چې سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړلو نو پوښتنه یې اوکړه: عائِشه! دا څۀ دي؟ ما ټوله واقعه عرض کړه، پۀ دې باندې د زُهد نمونې، مکي مَدَني تاجور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: عائِشې! دا بستره هٰغې زنانه ته واپس کړه! **پۀ خُدائے مې دې قَسَم وي! که چرې ما غوښتلے نو د سرو سپینو زرو غرونه به زما سره ګرځېدل۔** [1]

تری فرش پر حکومت تری عرش پر حکومت | تُو شہنشہِ زمانہ مَدَنی مدینے والے!
ترا خُلق سب سے بالا ترا حُسن سب سے اعلیٰ | فِدا تجھ پہ سب زمانہ مَدَنی مدینے والے!
ترا غم ہی چاہے عطّارؔ، اِسی میں رہے گرفتار | غمِ مال سے بچانا، مَدَنی مدینے والے! [2]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې ◈ هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا مطلوب ده ◈ که چرې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوښتلے نو د سرو او سپینو زرو غرونه به د هغوئ سره ګرځېدل ◈ که چرې هغوئ غوښتلے نو د دُنیا د ټولو نه زیات مال او دولت به پۀ ظاهري طور هم د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره وے ◈ که چرې رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوښتلے نو تاج او تخت به یې اِختیار کړے وے خو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زُهد اِختیار کړو، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنیا مال او دولت د ځان

---

[1] ... شُعب الایمان، باب فی حب النبی، فصل فی زہدہ وصبرہ، جلد:2، صفحہ:173، حدیث:1468۔

[2] ... وسائل بخشش، صفحہ:429425 ملتقطاً۔

سره ايښودل خوښ نۀ کړل نو الله پاک د هغوئ د پاره هم دا خوښ کړل-

د توبې دروازه يې خوښه کړله

حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهما فرمائي: يو ځل قربشو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې عرض اوکړو: دُعا اوکړئ چې صَفَا غونډۍ زمونږ د پاره د سرو زرو کړے شي، مونږ به پۀ تاسو باندې اِيمان راوړو؟ وه يې فرمائيل: پۀ خپله خبره باندې پاخۀ يئ---! واقعي چې اِيمان به راوړئ؟ وه يې وئيل: آؤ جي! پاخۀ يو- نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُعا د پاره لاسونه پورته کړل! الله پاک حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام راولېږلو، هغوئ عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو رَبّ پۀ تاسو باندې سلام وائي او فرمائي: که تاسو غواړئ نو صَفَا غونډۍ به د سرو زرو کړے شي، خو که دوئي بيا هم اِيمان را نۀ وړو نو داسې عذاب به راځي، کوم چې به پۀ چا نۀ وي راغلے او که تاسو غواړئ نو دوئي د پاره به د توبې دروازه پرانستے شي- رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: بَابُ التَّوْبَةِ وَالرَّحْمَةِ يعني زۀ غواړم چې د توبې او د رحمت دروازه پرانستے شي- [1]

سُبْحٰنَ الله! دلته هم وګورئ چې د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا پوښتنه کيږي چې اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو چې څۀ خوښوئ هم هغه به کيږي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سراسر رحمت دے، هغوئ غوښتل چې پۀ اُمت باندې عذاب را نۀ شي، د الله پاک د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت ته

---

[1] ... مسند امام احمد، مسند بنی ہاشم، مسند عبد اللہ بن عباس... الخ، جلد:2، صفحہ:103 حدیث:2203۔

وکورئ چې د ننه پورې په اُمت باندې اِجتماعي عذاب رانغلے۔

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! چې د قرآنِ کریم په غور سره تِلاوت وکړئ، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سیرت ولولې، د حدیثِ پاک کتابونه ولولې نو معلومه به شي چې د الله پاک هر ساعت د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا مطلوب ده، د دې پورې چې د قیامت په ورځ به هم د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښه پوره کولے شي۔ هغوئ به وائي او الله پاک به یې پوره کوي، د قیامت په هٰغه وحشت ناکه ورځ به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یوه سجده اوکړي او اُمت به وبخښي۔ دا زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان دے۔

الله او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې کښې زمونږ د پاره هم یو سبق دے، هغه دا چې د الله پاک رضا د محبوب په رضا کښې ده او د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا د الله پاک په رضا کښې ده، الله پاک هٰغه څۀ غواړي کوم چې رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غواړي او رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٰغه څۀ غواړي کوم چې الله پاک غواړي۔ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي دي:

بہم عہد باندھے ہیں وصلِ ابد کا | رضائے خدا اور رضائے مُحَمَّد[1]

---

[1]... حدائق بخشش، صفحہ:65۔

وضاحت: د الله پاک رضا او د مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا په خپل مینځ کښې څه وعده کړې ده چې همېشه به یو ځائے وي (ځکه چې د څو پورې رسولِ اَکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي نۀ کړے شي، د الله پاک رضا هډو مېلاؤېدے نۀ شي)۔

خُدا کا وہ نہیں ہوتا، خدا اُس کا نہیں ہوتا | جسے ہونا نہ آتا ہو تمہارا یَارَسُوْلَ اللہ!

د زیات عبادت اِیمان تازه کوونکے نیت

لهذا مونږ له پکار دي چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راضي کولو کوشش اوکړو۔ **علامه عَبدُ الرَّؤوف مُناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي دي:** حضرت رابعه بصریه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها به روزانه زر [1000] نفلونه کول، فرمائي: په خُدائے مې دې قَسَم وي! د دې نه زما اِراده (صرف) د ثواب نۀ ده بلکې (دا نیت هم دے چې) رسولِ کریم رَءُوفٌ رَّحِیم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما په دې عمل باندې خوشحاله شي او د قیامت په ورځ نورو انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلام ته وفرمائي: وګورئ! دا زما د اُمت یوه زنانه ده، په ورځ او شپه کښې به یـې دومره نفلونه کول۔ [1]

په عبادت سره د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا غوښتل څنګ دي؟

سُبْحٰنَ الله! څومره ځانګړې ادا ده---!! په نېک اعمالو باندې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا غوښتل د اِیمان علامت دے۔ په قرآنِ کریم کښې د رَبِّ قدیر اِرشاد دے:

---

[1] ... الكواكب الدرية، الطبقة الثانية، حرف الراء، رابعة العدوية، رقم:95، جلد:1، صفحه:266۔

وَاللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اَحَقُّ اَنْ یُّرْضُوْهُ اِنْ كَانُوْا مُؤْمِنِیْنَ (پاره:10، سورۂ توبہ:62)

[مفهوم] ترجمۂ كنزُ العِرفان: حالانكې الله او د هغۂ رسول د دې خبرې زيات حقدار دي چې خلق هغه راضي كړي، كه هغوئ اِيمان لرونكي دي-

د دې آيت د لاندې علمائے كرام فرمائي: پۂ اِيمان، عبادت، معاملاتو كښې د الله پاک سره د حُضُورِ اَنور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د راضي كولو او خوشحالولو نيت كول شِرک يا كُفر نۂ بلكې د اِيمان كمال دے، څوک چې صرف دې د پاره مسلمان وي، دې د پاره نـمونځ او روژه، حج او زكوٰة ادا كوي چې الله پاک هم راضي شي او حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم راضي شي، هغه كامِل مؤمِن دے، رَبِّ كريم دې د دې توفيق راكړي- [1]

د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بېزارۍ اِعلان

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د الله پاک رضا هله نصيب كيږي، كلې چې خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي كړے شي، ځكه هر هٰغه كار د كوم نه چې خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بېزارۍ اِعلان كړے دے، مونږ له پكار دي چې د هٰغه كار نه ځان بچ كړو- مثلاً ◈ فرمائي: څوک چې د قرآنِ كريم تِلاوت پۂ ښه اواز نۂ كوي، هغه زمونږ نه نۂ دے ◈ فرمائي: چا چې زما د سُنَّت نه بے رغبتي اوكړه، هغه زمونږ نه نۂ دے ◈ څوک چې د پردې څيز دعوىٰ اوكړي، هغه زمونږ نه نۂ دے ◈ جادو [پٹپله] كوونكے او [پۂ بَل] باندې كوونكے زمونږ نه نۂ دے ◈ مسلمان له دوكه

---

[1]... تفسیر نعیمی، پارہ:10، سورۂ توبۃ، زیرِ آیت:62، جلد:10، صفحہ:420۔

ورکوونکے زمونږ نه نۀ دے ◈ څوک چې د ګناه نه منع نۀ کوي، هغه زمونږ نه نۀ دے ◈ د مسلمان سره بد دیانتي کوونکے زمونږ نه نۀ دے ◈ د علمائے کرامو حق نۀ پېژندونکے زمونږ نه نۀ دے ◈ بے صبري کوونکے زمونږ نه نۀ دے۔

دا ما د ځینې حدیثونو خُلاصه عرض کړه۔ نور ډېر داسې حدیثونه دي، پۀ کومو کښې چې د داسې کارونو ذِکر دے د کومو نه چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بېزارئ اِظهار فرمائیلے دے، مونږ له پکار دي چې د داسې ټولو کارونو نه ځان بچ کړو۔ د مکتبة المدینه یوه ډېره ښکلې رساله ده: **وه ہم میں سے نہیں**۔ پۀ دې کښې هٰغه حدیثونه راجمع کړے شوي دي، پۀ کومو کښې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بېزارئ اِظهار فرمائیلے دے۔ دا پخپله هم ولولئ او نورو له هم د لوستلو ترغیب ورکړئ! او پۀ دې باندې عمل هم اوکړئ! الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

دارُ الاِفتّاء اهلسُنَّت ایپلي کښې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کښې جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دار الافتاء اهلسنت)۔ پۀ دې ایپلي کښې کښې ◈ به تاسو ته مېلاؤېږي: پۀ کُل شمېر د مذهبي (***Religious***) او معاشرتي (***Social***) پوښتنو لیکلې فتوې ◈ د عقیدو پۀ باره کښې حُکمونه ◈ د قرآن او حدیث پۀ باره کښې حُکمونه ◈ د اوداسه، غسل او د ناپاکئ حُکمونه ◈ د نـمونځ پۀ باره کښې مسئلې ◈ د مَړي پۀ باره کښې مسئلې ◈ د دعوتِ

اِسلامي د مفتيانو صاحبانو اهم تربيتي او معلوماتي ويډيوکلپس او بيانونه ◈ په معاشرتي او مذهبي اړخونو باندې د لار ښودنې مختلف ارټيکلز (*Articles*) او کتابونه ◈ د مفتيانو صاحبانو په مختلفو علمي، تربيتي او شرعي معلوماتو مشتملې سلسلې ◈ تجارت کورس، د فرض علومو کورس او دې نه علاوه د ډېرو دِيني معلوماتو خزانه حاصلولے شئ- دا ايپلي کېشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ! پخپله تړينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب (*Motivation*) ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان په اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

صحيح څه دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په کوته کول)

مسئله: د نقشِ نعلِ پاک يا د ليکلو والا بېج لګولو سره بيت الخلا (*Toilet*) ته تلل مکروه او بے ادبي ده-

وضاحت: په حديثِ پاک کښې دي: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به بيتُ الخلاء ته تللو نو خپله کوتمه مبارکه (په کومه باندې چې د الله پاک نوم ليکلے شوے وو، هغه به يې) ويستله- **(1) علمائے کرام فرمائي:** د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې ادا نه معلومه شوه چې هر هغه څيز کوم چې قابل عزت وي مثلاً په کوم باندې چې د الله پاک،

---

[1]... ترمذی، کتاب اللباس، باب ما جاء فی لبس الخاتم فی الیمین، صفحه:438، حدیث:1746۔

د يو نبي يا فرښتے نوم ليکلے شوے وي، بيت الخلاء ته د داخِلېدو نه مخکښې هغه د ځان نه جُدا کول مُستحب دي او د دې اُلټا کول مکروه دي۔ [1]

اَلْحَمْدُلِلّٰہ! د ربيع الاول شريف مياشت ده، عاشقانِ رسول پۀ خپلو سينو باندې مختلف ښکلي ښکلي بېجونه لګولي دي، ډېره ښه خبره ده، چې نېک نيت وي نو اِنْ شَآءَاللہُ الْکَرِیم! د دې ثواب به هم مېلاؤ ډېري، البته! بيت الخلاء ته د تللو پۀ وخت اِحتياط کوئ چې دا پاک بېج کوز کړے شي او بېل کېښودے شي د پاره د دې چې د دۀ بے ادبي وه نۀ شي۔ آؤ! که د ورکېدو خطره وي نو کوز يې کړئ او پۀ جېب کښې يې واچوئ! که دا هم نشي کېدے نو چې پۀ کوم ځائے مو بېج لګولے دے، د هغې د پاسه څۀ کېږه وغېره واچوئ او پټ يې کړئ! د دې اُلټا کول يعني د نقشِ نعلِ پاک يا د مقدس ليکلو والا بېج پۀ لګولو، د دې د پټولو نه بغېر بيتُ الخلاء ته تلل مکروه او بے ادبي ده۔ [2]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ... مرقاۃ المفاتیح، کتاب الطھارۃ، باب آداب الخلاء، الفصل الثانی، جلد:2، صفحہ:57، تحت الحدیث:343۔

[2] ... فتاوٰی رضویہ، جلد4، صفحہ582 خلاصۃً۔

د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

يَا مَلِكُ (اے (حقيقي) بادشاه---!!)

چې کوم غریب او بے وسه کَس روزانه 80 کرته د الله پاک دا ښکلے نوم يَا مَلِكُ لولي اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د غریبۍ نه به نجات ومومي- [1]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- .

اٰمِيْنْ بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... مدنی پنج سوره، صفحه:258۔